# د وینډوز XP د چالانولو وخت لنډ کړی (وینډوز ګړندي کړی)

تاسو ته به هم معلومه وی چی وینډوز د خپلی چالانی په موقعه هغه کوم پروګرامونه چی د Auto Start په دوسیه یا Directory/Ordner مخکی له مخکی ځای پر ځای شوی وی او هم یو شمیر نور پروګرامونه چی د وینډوز په ریجیستری Registry کی په پټه توګه خوندی شوی هم په اتومات ډول چالانوی. ددغو پروګرامونو له جملی څخه یو شمیر پروګرامونه هغې بی له پکاریدو پرته چالانیږی او بی ګټی د وینډوز د چټکی چالانی مخنیوی کوی. خو له نیکه مرغه د وینډوز د Msconfig پروګرام په مرسته چی کولای شوی هغه پروګرامونه چی بی ګټی دی او یا هم سړی غواړی چی هغه وروسته له دی نه چی وینډوز په مکمله توګه د خپلی چالانی عملیه یی ترسره کړی وی چالان کړی، او په خپله خوښه وټاکو ، لکه چی په لاندی انځورونو کی ښودل شوی:

د 

سټارټ Start په بټن ټک وکړی نو دا لاندی کړکی به ښکاره شی:




اوس په Run باندی ټک وکړی اوبیا په ښودل شوی کړکی کی msconfig ولیکی او پر 

ټک وکړی:




اوس په لاندی کړکی کی هغه پروګرامونه چی نه یی غواړی په اتومات ډول چالان شی نو د هغوی په خوا کی د خلورخواوی  له منځ نه د صحیح نښه د ټک په ورکولو سره لیری کړی:


© N. Niazi 2003 – 2006




د پخوانیو وینډوګانو لپاره کولای شی لکه د Autostart OK-S په شان مفت پروګرامونه Freeware له اینترنیټ څخه لاسته راوړی.

## مرستندویه پروګرامونه Services

د وینډوز د Auto Start په شان کولای شوی د سیستم مرستندویه پروګرامونه System Services وپارو (فعال). دغه پروګرامونه لکه د هارډ ویر دراېور Hard ware Driver په شان د وینډوز د چالانیدو په وخت کی (مخکی له دی چی د پروګرام پکاروونکی User/Benutzer ځان وینډوز ته ور وپیژنی چالانیږي او مهمی دندی Functions/Funktionen لکه د سیستم د بیا رغونی System Recovery یا د پلګ او پلی Plug&Play دندی فعالی او د ګټه اخیستو لپاره چمتو ساتی.




ددی لپاره چی د مایکروسافت د هغو دندو Services د ودرولو نه چی د وینډوز د بی غل او غش فعالیت لپاره ضروری دی مخنیوی وکړو نو د پورته کړکۍ په لاندنی برخه کی د




د څلورخواوی په منځ کی د صحیح نښه د ټک په ورکولو کیږدی اوس

به نو یوازی هغه سرویسونه په دی کړکۍ کی ښکاره شی چی د نورو پروګرامونو له خوا چالان شوی یا کیږی. او وینډوز ورته د خپلی چالانی لپاره کومه اړتیا نلری. اوس کولای شی په بی غمی ټول هغه سرویسونه چی په راتلونکی کی بایدی چی چالان نشی د صحیح نښی په لیری کولو غیر فعال کړی.

## دلیری شویو پروګرامونو پاتی برخی وومومی او له منځه ئی یوسی

د وینډوز د مامولی لیری کولو د روټین Standard Uninstall Routine یا Standardmäßige Deinstallations-Routine په نتیجه کی ډیر نه پکاریدونکی فایلونو برخی د هارډ ډرایف پر مخ پاتی کیږی، چی د هارډډرایف کار ورسختوی. خو سړی کولای شی د کومو پروګرامونو برخی چی د Program Files/Programme د Folder/Ordner کی پاتی دی لیری یا ډیلیټ کړی.
د یو مفت Freeware پروګرام لکه EasyCleaner په مرسته کولای شو د وینډوز ریجیستری له بیځایه Enteries/Einträge څخه پاکه او ونیډوز ترپخوا ګړندی کړو.

## د MSI د انستالولو پاتی برخی لیری کړی

ددی لپاره چی د مایکروسافت د انستالر یا MSI د ناکامه عملی په پای کی د پاتو شویو فایلونو او ډایریکټریو نه ځان خلاصه کړو، نو باید ده چی د مایکروسافت د مفتو پروګرامونو Freeware ته لاس واچو. د مایکروسافت یو پروګرام چی د پاکوونکی یا CleanUp په نامه یادیږی او دی مایکروسافټ د انټرنیټ له پاڼی نه په وړیا توګه لاس ته راځی Windows Installer Clean Up د ټولو پروګرامونو نومونه په ریجیستری کی لیکی. کله چی تاسو دا پروګرام چالان کړی نو هغه کوم پروګرامونه چی په بنه توګه ندی انستال شوی او په سمه توګه کار نه کوی په ننبه 

کړی او بیا په لیری یا Remove باندی ټک وکړی.

